# د باچا خان تعلیمي فلسفه

## Bacha khan's alternative vision of Education

Dr. Mohammad Sohail[1]

ABSTRACT

Currently, many experts of Education in the world, especially educational researchers, are talking about what Bacha Khan said a hundred years ago. It is a pity that we could not present Bacha Khan to the world in the way that was needed. Maybe all these chains are due to the coercive policies of the state, or because of our injustice made over with suppressed nations. Bacha Khan connects the entire philosophy of education with the freedom of the sub-continent. He told that if the country is free, education will also be free. Baba's intention of free education was to preserve the history of his land, to connect the economy of the Pashtun Afghan homeland with the world, to make education a means of preservation and development of the mother tongue of the Pashtun homeland, and to strengthen the indigenous wisdom through the knowledge of its own resources. Bacha Khan was of the opine that developing alternative curriculum, and opting for the alternative system of Education, to produce real sons and daughters of the soil, is real Education.

دا مهال نړئ کښې د تعلیم ډیر ماهرین او بالخصوص د تعلیم محققین هم هغه خبرې کوي کومې چې باچا خان نن نه سل کاله اګاهو کړې وے . ولے د افسوس خبره دا ده چې مونږ نړئ ته باچا خان هغسې پیش نه کړې شو څه رنګ چې پکار وو . شاید دا ټول زنځیرونه د ریاست د جبر له کبله دي یا زمونږ د ناراستئ وجه ده . باچاخان د تعلیم ټوله فلسفه د وطن ازادئ سره تړي . فرمائي چې وطن ازاد وي نو تعلیم به هم ازاد وي . د ازاد تعلیم نه د بابا مراد د خپلې خاورې تاریخ محفوظ کوول وو، د پښتون افغان وطن اقتصادیات د نړئ سره تړل وو،د پښتون وطن مورنئ ژبو تحفظ او پرمختګ د لارې ذریعه تعلیم ګرځول وو، د خپلو وسائلو علم له برکته معاش مضبوطول وو، خپل نصاب جوړل وو، او نړئ سره د سیا لئ اختیار اخستل وو. ځکه خو بابا وئیل چې

[1] Lecturer in Education, Abdul Wali Khan University, Mardan

" زما دا خیال دي چي تر کومه پوري قوم ته د خپلو بچو د تعلیم په مسئله کښي مکمله خود مختاري او ازادي حاصله نه وي تر هغي پوري هغه قام ته خپلو مخصوصو ضروریاتو او حاجتونو مطابق تعلیم نه شي ورکولي "

په ادب، تعلیم ، او فلسفه کښي دا خبره جېک روسیو ( ۷۱۱۲ـ ۱۷۷۸) هم کړي ده . چي اوس ورته تعلیم کښي د تهیوري اف فري ایجوکیشن درجه حاصله ده . هغه وائي چي تر سو یو قام ازاد نه وي د هغوي تولنیز ژوند ، اقتصاد ، رائے ، گته ، دولت ، او تعلیم به همیشه د بیرغونه لاندي وي .

د تعلیم او سیاست تعلق باندي اول ځل باچاخان اساسي وینا کړے ده . د انجمن اصلا ح الا فا غنه نه تر خدائي خدمت گار تحریک پوري سفر هم دراصل د تعلیم د لارے سیاسي ازادی له پاره قامي تحریک چلول وو . باچا خان وائي چي

" د تعلیم سوال د سیاسي سوال سره داسي ګنډلي دي چي د هغوي د یو بل نه جدا کیدل ناممکن دي "

دي باره کښي پیټر ( ۲۰۱۲) [2]وائې چي تعلیم ، فلسفه او سیاست د مغربي روایاتو ترپیوس ( د کیمبرج د اعلي زده کړو اخري درجه ) ده . په نړئ کښي دا مهال د جدید تحقیق مطابق د سیاست او تعلیم مینځ کښي تعلق بلها اکادمي اپروچ لري . دا خبره پالو (۱۹۸۵) هم کوي دي وائي چي د تعلیم دارمدار ټول پر سیاست دي [3]

تیرکال په هاورډ یو نیورسټئ کښي یو تحقیق شوے دے چي پکښي د سیاسي طور مضبوط هیوادونه او د هغي تعلیمي ترقئ باندي اثرات کتل شوي دي . چي لسټ ئي څه دا رنګي دے

| د ملک نوم | سیاسي توان لمبر | تعلیمي توان لمبر |
|---|---|---|
| کینیډا | اول | دریم |
| ډنمارک | دویم | پنځم |

[2] Michael A. Peters Policy, Cultural and Social Studies in Education, University of Waikato, New Zealand, (2012)

[3] Paulo Freire’s ‹The *Politics of Education: Culture*, *Power and Liberation*, (1985)

| | | |
|---|---|---|
| هالینډ | دریم | اووم |
| استریا | څلورم | لسم |
| ناررے | پنځم | اتلسم |
| سوټزر لینډ | شپږم | یوولسم |
| استریلیا | اووم | څلورم |
| نیوزي لینډ | اتم | دوویشتم |
| سویډن | نهم | شپږم |
| لګزمبرګ | لسم[4] | یوویشتم[5] |

د برني لسټ نه دا ثابته شوه چې سیا سي توګه توان مند قامونه او هیوادونه په تعلیم کښې هم هغومره مضبوط دي . او د دوي تعلیمي نظام نوروله پاره مثال ګرځیدلے دے . همدا خبره نن نه نوي کاله اګاهو باچا خان په داسې انداز کښې کړي وه .

"کومو قومونو ته چې سیاسي ازادي حاصله وې هم هغه اقوام په سائنس ، زمیندارئ ، صنعت و حرفت او تجارت کښې ډیر وړاندې دي "

ده ازادئ دیرې ګټې وي چې یوه پکښې دا ده چې ازاد قامونه ده ازاد فکر لاندې وده کوي . ازاد فکر سره تخلیق کیږي . هم دا وجه ده چې تخلیق سره د تخلیق لوړ لوړ شخصیتونه هم پیدا کیږي . ایزایه برلن (۱۹۵۸) د ازادئ دوه تصورات ښائي . منفي ازادي او مثبت ازادي . هر یو قسم کښې بلها هیئتونه خوندي دي . د ازادئ ذیات تر تهیوریزهم دے دواړو کښې څه نه څه شکل کښې ډیر په اسانئ فټ کیږي . د برلن دغه نظریه درې وجوهاتو له کبله مهمه ده . اول دا چې دا دواړو کښې اساسي فرق ښایئ . دویمه دا چې دا تهیري مثبت ازادئ له دا پام لرنه ورکوي چې دا محکومیت له یو اوزار ګنل کېږي . دریم دا چې ژوند مقا صدو له پاره دا د ازادئ صحیح مفهوم ښائي . برلن وائي چې منفي ازادئ کښې سړي ته دا اختیار نه وي چې کومه دروازه دې بنده وي او کومه دې ازاده وي . او دا

[4] Sintia Radu, (2020), 10 Most Politically Stable Countries, Ranked by Perception

[5] Sophia Ireland, (2020), World's best countries for Education system

دروازې دے وي څومره ـ؟ برلن وائي چې ازادي دراصل ده كار كولو موقع ده ـ او بذات خود عمل نه دے ـ بل ارخ ته مثبت ازادي د كار كولو ازادي وي او دا د مداخلت نه كولو ازادي وي ـ دا د كار كولو ، سوچ كولو ، تخيل ته د لاسو او انځور ګرځ ازادي وي ـ مثبت ازادئ كښې تخليق كيږي ـ همدا خبره باچا خان داسې كوي ـ [6]

" هغه عالمان او فاضلان چې د ازادئ په زمانه كښې پيدا شوي وو اوس ده هغې سلمه حصه هم نشته "

باچا خان د تعليم په مختلفو مدارجو ، تر جيحاتو ، عواملو ، او برخو باندې ډېر ژور نظر لرلو ـ نړئ نن وايئ چې امتحان د تعليم يو جز دے ـ او تعليم بذات خود يو لوئې عمل دے ـ بلكه دا چې تعليم يواځې د ډګرو اخستل نه وي ـ باچا خان وائي چې

" حقيقت دا دے چې تعليم صرف د كتابونو لوستل او امتحانونه پاس كول يا ډګرې اخستل نه وي "[7]

د فكر خبره دا ده چې باچا خان دا خبره كال ۱۹۳۱ كښې كړے وه او د پاكستان تعليمي پاليسئ ۱۹۷۲ كښې دا خبره شامله كړه چې

"Education is not subordinate to Examination, rather examination is subordinate to Education"

تعليم د امتحانونو ماتحت نه وي بلكه امتحانونه د تعليم جز دے

تعليم سره د تربيت خبره ډيره پخوانئ ده ـ د تعليم فلسفيان وائي چې كه تعليم خلكو كښې عاجزي پيدا نه كړي نو ده داسې تعليم ټولني ته هغسې ګټې نه ملاويږي ـ مشهور فلسفي كانټ ( ۱۷۲ـ ۱۸۰۴) [8] هم وائي چې تعليم د تربيت نه په دې جدا دے چې تعليم فكري اړخ پياوړتيا جوړوي ـ او تربيت د تعليم معنوي اړخ جوړوي ـ كانټ وائي چې انفراد كښې د تربيت روزنه د تعليم اساسي مقصد او د كائناتو مسلمه اخلاقي حقيقت دے ـ

[6] Isaiah Berlin, (1958), Two concepts of freedom, Oxford university press, London

[7] ازاد سكول هنګو كښې د باچا خان تقرير ۱۹۳۱

[8] كانټ يو جرمن فلاسفر وو چې په روشن پوهئ ، ما بعد الاطبيعات ،اخلاقو ، او جماليات په برخه كې يئ د جديد فلسفې ترټولو اغيز كار كړے دے

په دے لړ کښې باچا خان فرمائي چې

" په ځائې د دے چې د اسمان نه ورته کتاب لوستلو د پاره راليږلے وے په هغه قوم کښې يو سړے ( نبي ) پيدا کړے دے چې هغه د خپلې نمونے په ذريعه د خلکو تربيت اوکړي "

باچاخان د قوم يو پوه نبض شناس وو . پښتون قام کښې د تعليم نه پيدا شوي خلا باندې پوه وو . په دې هم پوهه وو چې رسمي تعليم کښې د پښتنو بچو له پاره د روزګار موقعې کمې دي . لهذا پکار دي چې دوي له ټيکنيکل تعليم ورکړے شي . د خپلې فکر مندئ اظهار ئې داسې کړے ؤ .

" زمونږ طالب علمان چې د تعليم نه فارغه شي نو سيوا د نوکرئ نه بل د هيڅ کولو نه وي "

د تعليم نه د نوکرئ معني اخستل ډير پښتانه ځوانان بيکاره کينول . باچاخان به وئيل چې د فرنګي نوکري کول د هغه د مفاداتو نوکري کول وي . همدا وجه ده چې پښتانه ځوانان د خپلې ژبې ، خپل کلتور ، خپل تاريخ نه بيګانه دي . باچاخان د خپلې ژبې نه زده کوؤل لويه کم همتي او کم لياقتي ګڼي .
" مونږ خپلو کښې هم خطونه اردو او انګريزئ کښې ليکو . دا زمونږ ده کم همتئ او کم لياقتئ لوئې دليل دے "
دے له پاره يو محکم دليل باچا خان دا وړاندې کړو چې کۀ تعليم په مورنئ ژبه کښې ورکړے شي نو زمونږ ډيرې تعليمي مسئلې به حل شي . باچا خان وائې چې
" ابتدائي تعليم ( تر پنځمه ) په پښتو کښې پکار دے "
باچاخان دا خبره په کال ۱۹۳۱ کښې کړے وه . ولے د اقوام متحده چارټر دا مطالبه د ۱۹۵۲ د بنګالئ ژبې تحريک نه پس شرو ع شوه . ملګرو ملتونو ۲۴ فروري د مورنو ژبو نړي والا ورځ ومنله . د ورلډ بنک يو راپور۱۹۸۲ کښې وائي چې

" کۀ چرې زده کوونکي په مورنئ ژبه کښې زده کړه وکړي نو دا ډير مثبت نتائج لري . او زده کړه يعني لرنڼګ زياتوي د علم په ځائے زده کړه سر ته رسوي . رسائي تيزوي . مساوات راولي . د زده کړې ټارګټ حاصلوي . او په سکولونو کښې د زده کوونکو د ډراپ اوټ امکاناټ کموي . سماجي او کلتوري فائدې راوړي . او دا هر څه په کم قيمت سر ته رسوي ."
د دے علمي څيړنو نه اوس دا اندازه لګول اسان دي چې باچاخان د قام په صحيح معني لار پوهه ؤ . او د هغه د خبرے ملغلرے دي . لکه چې وائي چې " کوم قام ته خپله ژبه سپکه شي هغه قام سپک شي "

ماته یاد شي باچا خان کال ۱۹۸۲ کښي اتمانزو کښي د دوست محمد خان او پیر محمد خان حجره کښي ناست وو . خلک ورته راغونډ شوے وو . زه اووم جماعت کښي ووم . حجرے سره خوا کښي زمونږ سکول وو . د سکول د چهټئ نه پس پلار سره حجرے ته لاړم . هلته د بي بي سي یو نمائنده راغلو . جمال شاه وکیل بابا له ورغلو . چي نمائنده سره خبرے وکړئ . بابا جمال شاه تا ووئیل چي ته ماته سوالونه انګریزئ نه پښتو کښي ترجمه کوه . زه به جواب ورکوم . چي انټرویو ختمه شوه نو جمال شاه وکیل بابا ته اووې چي بابا ؛ خه سمه دمه انګریزي درځي نو خپله به دے ورسه خبرے کړے وې کنه ... بابا ورته ویل . کم عقله چي مونږ فرنګیانو وطن ته لاړ شو نو هم دوي سره د دوي ژبه کښي خبرے کوو . دے نن دلته راغلے دے پریږده چي زمونږ ده ژبي اهمیت نه خو لږ ډیر خبر شي کنه . ځکه بابا فرمائي چي

" څومره تکلیف او سختي چي یو هلک په پردئ ژبه زده کړو کښي محسوسوي . هغه هیڅ چرې د خپلي ژبي په لیکلو او لوستلو کښي نه محسوسوي "

دلته باچا خان یو بله اهمه پام لرنه کوي چي " زمونږ علما د خپلو خیالاتو اظهار په فارسئ او عربئ کښي کوي او موجوده تعلیم یافته ئي په اردو او انګریزئ کښي کوي " ..... د نن تازه خبر دادے چي سعودي عرب زمونږ نه د خپلي مالي قرضي سره سره د ۱۴۰۰ کلو تاریخي قرضه هم بیرته غوښتلي ده .[9]

باچا خان د ځوان کول باره کښي ډیر فکر مند وو . او دا ئي غوښتل چي زمونږ وطن کښي چي د ضرورت څه شعبي هم دي چي دا د خپلو ځوانانو د مهارت نه ډکي شي . باچا خان یو ځل تخت بهائي کښي د یو کارخاني دوره وکړه هلته د بیلا بیلو شعبو د ماهرینو نه د علاقے تپوسونه کول . یو شعبي والو ورته ویل چي څه د ګجرانوالے یم . څو ورځي پس یئ صاحبزاده عبدالقیوم خان ته ویل چي دا تاسو اسلامیه کالج کښي څه ښائي چي مونږ له ماهرین د پنجاب نه راځي . تاسو خپلو مضامینو کښي فني مضا مین ولي نه شاملوئ . . هم دغه وجه ده چي د هنګو ازاد سکول کښي ئي ووفرمائیل چي

" خود غرضه حکومت د زلمو د ژوند د ځوانئ حصه په ډیره بے دردئ سره ضائع کوي "

د باچا خان د تعلیم په اړه یو مهم نظر د لیډرشپ تهیوري باره کښي دے . باچاخان د نړئ مشهوره نظریه "" The Great Man Theory of Leadership"

کښي ترمیم کړے دے . دا نظریه وائي چي غټ لیډران پیدائشي وي او دا جوړیدے نه شي . د دغه تهیوري شاته دا قیصئ مشهوره ده چي د ابرا هم

9 روزنامه ' پاکستان ټو ډے " ۱۸ . ۱۲ . ۲۰۲۰ اولنئ صفحه چي خبر داسے دے
Saudi Arabia asks Pakistan to return 1400 years of borrowed history

لنکن ، گاندھي جي ، جولي سيزر ، او سکندر اعظم غونډے ليډران پيدائشي وو . په دي تهيوري تر ټولو غټ اعتراض د ټولنيز ژوند ماهر
هر برټ سپنسر کړے دے . سپنسر وائي چې فرد د ټولنې پيداوار دے او دا څنگه کيدے شي چې يو فرد بغير د ټولنې د روژنې جوړ شي . سپنسر صرف دا خبره کړے ده ولے باچاخان عملي توگه ثابته کړے ده چې کو د انسانانو په ټولنيز ژوند کار ووشي او دوي له ټريننگ يعني تربيت ورکړے شي نو ليډران جوړيدے هم شي . او پيدا کيدے هم شي . دغه رنگ دي گريټ مين تهيوري د Right man for the right job خبره ډيره وروستو کړے ده او باچا خان ۱۹۲۶ کښي وئيلي وو چې " کار له خلک ووگورئ او خلکو له کار مه گورئ " ... خلکو له کار مه گورئ . . . په دے تهيوري کښي غټ ترميم دے .
دغه رنگ د ليډرشپ سټائلز باندي دغه تهيوري دري مهم سټائلونه کاروي . چې دا دي

(i) Autocratic
(ii) Democratic
(iii) laissez faire

دي کښي باچا خان څلورم سټائيل شامل کړے دے او هغه د ټريننگ دے يعني کۀ ته خپل ورکرانو ته ټريننگ ورکړے او هغوي پوهه کړے نو نه دا هم ډير کار کوولے شي . خدائي خدمت گار تحريک کښي يو لاکه بے لوڅه خدائي خدمت گاران پيدا کړل هم د دا نوے نظريه تعقيبوي . په کوم کلي کښي به چې يو خدائي خدمت گار هم وو نو هغه به د ټول کلي رهنمائي کووله . چرته جنازه کول وو ، ښادئ کښي انتظام کوول وو . غونډه ، جرگه ، وروغه ، مشري . . . . دا ټول به خدائي خدمت گارانو کوول . په زرگونو داسي واقعات دي چې ذکر ئي کيدي شي .
باچا خان ټولنيز ژوند کښي د ښځو کردارډير اهم گڼلو . هميشه به ئي ووئيل چې " ښځه د سړي د سر پټکي وي "
" ښځه د سړي نيم ځان دي که چرې د سړي نيم ځان مراوي او بيکاره وي . نو ايا دا ممکنه ده چې د هغه باقي ځان دے هم څه ترقي ووکړي ."
خدائي خدمتگار تحريک ته مکمل تحريک ځکه وئيل کيږي چې دي کښي د ښځو برخه د نن نه سل کاله اگاهو معارفي شوي وه . جهان خائسته بي بي د اتمانزو

اولنی ښځه خدائي خدمتګاره وه . د باچاخان خپله چاچي ............. چې په کنډه چاچي مشهوره وه . د انجمن اصلاح الافا غنه اولنو پنځوس ممبرانو کښې وه . د خپل قام ډیر خدمت یئ کړي دے . دې سره سره د هر خدائي خدمت ګار ښځه د دې تحریک عملي برخه څکه وه چې سړي به ټول جیل کښې وو او د کور ، پټو ، ګیاه ، څارؤ خیال به ښځو ساتلو . دغه رنګ د کور او حجرې مینځ کښې فاصله خدائي خدمت ګار تحریک داسې جوړه کړې وه چې د زړې پختونولئ تعریف له ئې نوې چوکاټ ورکړي وو . همدا وجه ده چې د صدراسرارخان خدائي خدمتګار کور کښې تاج محل بي بي، زینب

بي بي پیدا شوه . د فضل رحیم ساقي کور کښې مملکت بي بي پیدا شوه . د یحي ګل کور کښې میراګئ خدائي خدمت ګاره شوه ( دواړه ښځه خاوند بابړه کښې شهیدان شوے دي ) . د بنارس خان کور کښې لیلي نهار لویه خدائي خدمتګاره وه . دا ټول د خدائي خدمت ګارئ برکت وو چې هغه پښتنه ټولنه چې هلته به د جینئ نوم اخستل کفر وو . هغوي پښتون رساله کښې لیکل شروع کړل . سیده بشري بیګم ، الف جان ختکه ، نور جهان بیګم ، سیده مجیده بیګم ، سیده ادینه خور ، د رزړو خور او داسې ډیرې لیکوالې قامي تحریک وروزولې چې دا تحریک ئې ټولنیز ، سیاسي ، کلتوري ، ادبي لید لورې د لارې جوړ هم که او عملي ئې هم که . څکه باچاخان وائي چې

" وطن هله ابادیږي چې د قام ورو لویو ، نارینو ، زنانو ، ټولو په زړونو کښې د وطن مینه پیدا شي "

حوالې

REFRENCES


1. Michael A. Peters(Policy, Cultural and Social Studies in Education, University of Waikato, New Zealand, (2012)
2. Paulo Freire's ‹The *Politics of Education: Culture*, *Power and Liberation*, (1985)
3. Sintia Radu, (2020), 10 Most Politically Stable Countries, Ranked by Perception
4. Sophia Ireland, (2020), World's best countries for Education system
5. Isaiah Berlin, (1958), Two concepts of freedom, Oxford university press, London
6. ازاد سکول هنګو کښې د باچا خان تقریر ۱۹۳۱کانټ یو جرمن فلاسفر وو چې په روشن پوهئ ، ما بعد الاطبیعات ،اخلاقو ، او جمالیات
7.

8. په برخه کې یئ د جدید فلسفے ترټولو اغیز کار کرے دے
9. روزنامه ' پاکستان ټو ډے " ۱۸ . ۱۲ . ۲۰۲۰ اولنئ صفحه چې خبر داسے

10.Saudi Arabia asks Pakistan to return 1400 years of borrowed history